# د پښتني فولکلور
# د چاپي مجموعو څېړندود

**څېړنپوه نصرالله ناصر**

د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود

څېړنپوه نصرالله ناصر

۱۳۹۹ هـ . ش

# The Research Methodology in the Printed Collections of Pashton Folklore

Professor Nasrullah Nasir

2020

ISBN 978-9936-645-74-5

9 789936 645745

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکادمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

د فولکلور او شفاهي ادبیاتو څانګه

# د پښتني فولکلور
# د چاپي مجموعو څېړندود

څېړنپوه نصرالله ناصر

۱۳۹۹هـ. ش

**د کتاب پېژندنه:**

**د کتاب نوم:** د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود

**لیکوال:** څېړنپوه نصرالله ناصر

**مهتمم:** څېړنوال محمد اصف احمدزی

**خپرندوی:** د علومو اکادمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**لومړی چاپ:** ۱۳۸۳

**دوهم چاپ:** ۱۳۹۹هـ. ش/ ۲۰۲۰م

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل - افغانستان

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰

**ISBN:** **۹۷۸-۹۹۳۶-٦٤٥-۷٤-۵**

د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست

**گڼه** **سرلیک** **مخ**


څو خبرې/ څېړونکی نصرالله ناصر ........................................................ أ

د لارښود استاد نظریه / عبدالله بختانی ................................................ و

تقریظ/ د سرڅېړونکي مرستیال نور محمد سهیم ..................................... ل

تقریظ / سرڅېړونکی نعمت الله اندړ ..................................................... س

زېری او مبارکي / سرمحقق علي محمد منګل .......................................... ق

د دوهم چاپ سریزه .......................................................................... ۱

د لومړي چاپ سریزه ......................................................................... ۳

**لومړی څپرکی**

**د منابعو او مأخذونو ارزونه** ................................................. ۱۱

**دوهم څپرکی**

**کلتور او فولکلور** ........................................................ ۲۵

۱. کلتور .................................................................................... ۲۵

۲. فولکلور ................................................................................ ۲۷

الف- د فولکلور لغوي معنا ................................................................ ۲۸

ب- د فولکلور اصطلاحی معنا ............................................................ ۲۹

**دریم څپرکی**

**د فولکلور ټولونې لارې چارې** ........................................... ۳۳

الف – د فولکلور ټولونې او څېړنې میتود .............................................. ۳۸

ب- د فولکلور ټولوونکي ځانګړنې ......................................................... ۳۹

ج. د فولکلور ټولونې درې عمده تکنیکونه ............................................... ۴۵

۱. مرکه (Interview)................................................................. ۴۵

۲. پوښتنلیک (Question naire) ...................................................... ۴۸

۳. کتنه (Observation) ................................................................ ۴۹

## څلورم څپرکی

**د فولکلور ټولونې او څېړنې پسمنظر ته عمومي کتنه** ......... ۵۰
۱.پښتني فولکلور او ختیځپوهان ................................................... ۶۱
۲. په افغانستان کې د پښتني فولکلور ټولونې پیل...................................... ۶۷
۳. په لره پښتونخوا کې د پښتني فولکلور ټولونې او څېړنې هڅې........................ ۸۴
الف. په پېښور کې د پښتني فولکلور ټولونې چارې....................................... ۸۷
ب. په کوټه او بلوچستان کې د پښتني فولکلور ټولونې هڅې ............................ ۸۹

## پنځم څپرکی

۱. په عمومي ډول پښتني فولکلور د کوم منل شوي روش پر اساس ټول شوی دی؟...... ۹۱
۲. تر اوسه موږ د پښتني فولکلور کومې چاپې مجموعې لرو؟.............................. ۹۹
۳. د پښتني فولکلور ټولې شوې چاپې مجموعې............................................ ۱۰۱

## لومړۍ برخه

د ختیځپوهانو له خوا د پښتني فولکلور ټولې شوې چاپې مجموعې ......................... ۱۰۱
۱. د کابل سلطنت بیان.......................................................... ۱۰۱
۲. د کابل سلطنت بیان.......................................................... ۱۰۳
۳. بنو یار زموږ افغانی سرحد..................................................... ۱۰٤
٤. د پښتونخوا د شعر هاروبهار.................................................... ۱۰۵
۵. نکلونه....................................................................... ۱۰۷
۶. د قصو مجموعه ............................................................... ۱۰۸
۷. د پښتو متلونه او محاورې...................................................... ۱۰۸
۸. د پښتو متلونو او محاورو مجموعه ................................................ ۱۰۸
۹. افغاني (پښتو) حکایې او افسانې................................................ ۱۰۸
۱۰. سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه..................................................... ۱۰۹
۱۱. د وصال او هجران سندرې...................................................... ۱۰۹
۱۲. د پښتنو تاریخي سندرې....................................................... ۱۰۹

## دوهمه برخه

په افغانستان کې د پښتني فولکلور ټولی شوې چاپې مجموعې ............................ ۱۱۱
۱. پښتو متلونه.................................................................. ۱۱۱
۲. ملي هنداره.................................................................. ۱۱۲

۳. ملي سندرې........................ ۱۱۳
٤. ملي هنداره........................ ۱۱۳
۵. متلونه........................ ۱۱٤
٦. پښتو قصې (کیسې)........................ ۱۱۵
۷. پښتونولي........................ ۱۱٦
۸. پښتني خویونه........................ ۱۱۷
۹. پښتني سندرې........................ ۱۱۸
۱۰. پښتني سندرې........................ ۱۱۹
۱۱. پښتني دودونه........................ ۱۲۱
۱۲. لنډۍ........................ ۱۲۱
۱۳. د ژوند سندره........................ ۱۲۲
۱٤. هلمند........................ ۱۲۳
۱۵. پښتو متلونه........................ ۱۲٤
۱٦. تور برېښن........................ ۱۲۵
۱۷. خوږې نغمې........................ ۱۲۷
۱۸. د هوتکو نارې........................ ۱۳۰
۱۹. د خلکو سندرې........................ ۱۳۰
۲۰. د خندا پلوشې........................ ۱۳۲
۲۱. کندهار........................ ۱۳۳
۲۲. ملي هنداره........................ ۱۳٤
۲۳. پښتني ملي اتڼونه او نڅاوې........................ ۱۳٤
۲٤. د پښتنو دودونه........................ ۱۳٤
۲۵. امثال او حکم........................ ۱۳۵
۲٦. فولکلوري ګېډۍ........................ ۱۳۵
۲۷. فولکلوري مرغلرې........................ ۱۳٦
۲۸. اولسي پوهه........................ ۱۳۷
۲۹. د خلکو تجربې........................ ۱۳۸
۳۰. ګړنی ادب........................ ۱۳۹
۳۱. د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس (حقوقي، جزایي، تعاملي)........................ ۱۳۹

۳۲. د متلونو کیسې ........................................................ ۱٤۱
۳۳. د ماشومانو فولکلور .................................................... ۱٤۲
۳٤. فولکلور ................................................................ ۱٤۲
۳٦. پښتو متلونه ............................................................ ۱٤٤
۳۷. د غرونو څوکې ........................................................ ۱٤٥
۳۸. غرنۍ سندرې .......................................................... ۱٤٦
۳۹. فولکلوري ګلونه ....................................................... ۱٤۷
٤۰. زرينې ځانګې ........................................................... ۱٤۸
٤۱. پښتانه کوچيان ......................................................... ۱٤۹
٤۲. د غلام محی الدين افغان افکار او آثار................................... ۱٥۰
٤۳. د پښتو ځانتنی ادب او موسيقی......................................... ۱٥۱
٤٤. دودونه ................................................................... ۱٥۲
٤٥. اولسي سندرې............................................................ ۱٥۳
٤٦. ترکمني مرغلرې ........................................................ ۱٥٥
٤۷. ټوټکې .................................................................. ۱٥٦
٤۸. د سردروتوتيان.......................................................... ۱٥٦
٤۹. د ګوربزو کلتور او فولکلور............................................. ۱٥۷
٥۰. د دوو دوستو هېوادونو اولسي پوهه...................................... ۱٥۸
٥۱. د پښتنو ځينې فولکلوري روايات........................................ ۱٥۹
٥۲. لنډۍ ..................................................................... ۱٦۰
٥۳. پښتني فولکلور ......................................................... ۱٦۲
٥٤. د ښادۍ بدلې ........................................................... ۱٦٥
٥٥. اولسي سندرې........................................................... ۱٦٥
٥٦. د تنيو کلتور او فولکلور................................................. ۱٦٦
٥۷. د کابل تاريخي جغرافيه او کلتور....................................... ۱٦۷
٥۸. د ګوربزو نکلونه........................................................ ۱٦۸
٥۹. د ننګرهار نکلونه....................................................... ۱٦۹
٦۰. د کندهار فولکلور ....................................................... ۱۷۲
٦۱. ټوکې ټکالې ............................................................ ۱۷٤

٦٢. د پکتیا نکلونه........................................................ ۱۷۵
٦٣. افغاني موسیقي........................................................ ۱۷٦
٦٤. د ټوکو خورجین........................................................ ۱۷۷
٦٥. په لغمان کې د واده دودونه........................................................ ۱۷۸
٦٦. د مومندو نرخونه........................................................ ۱۸۰

## دریمه برخه

په لره پښتونخوا کې........................................................ ۱۸۳
د پښتني فولکلور ټولې شوې چاپي مجموعې........................................................ ۱۸۳
۱. حیات افغاني........................................................ ۱۸۳
۲. متلونه........................................................ ۱۸۵
۳. پښتو لوګګیت........................................................ ۱۸۵
٤. تاریخي چاربیتې........................................................ ۱۸٦
۵. پټهانو کې رومان........................................................ ۱۸٦
٦. د نوره دین چاربیتې........................................................ ۱۸۷
۷. د مروتو کسرونه........................................................ ۱۸۷
۸. ګل ټپې........................................................ ۱۸۸
۹. ګل ټپې........................................................ ۱۸۹
۱۰. سرود کهسار........................................................ ۱۸۹
۱۱. چټانین اور رومان........................................................ ۱۹۰
۱۲. سرحد کې رومان........................................................ ۱۹۱
۱۳. د ټکرو شکور........................................................ ۱۹۲
۱٤. کاکړۍ لنډۍ........................................................ ۱۹۳
۱۵. د غرو څوکې........................................................ ۱۹٤
۱٦. پښتني افکار........................................................ ۱۹٤
۱۷. سپېڅلی ګایونه........................................................ ۱۹٦
۱۸. غاړې........................................................ ۱۹٦
۱۹. چغیان (انګی)........................................................ ۱۹۸
۲۰. پشتو کې رومان........................................................ ۱۹۸
۲۱. پښتني فولکلور........................................................ ۱۹۹

۲۲. ملي ادب ........................................ ۲۰۰
۲۳. زموږ ژواک ........................................ ۲۰۰
۲٤. اولسي نکلونه ........................................ ۲۰۱
۲۵. مزارات ........................................ ۲۰۱
۲٦. کاکړۍ ........................................ ۲۰۲
۲۷. ترینو ........................................ ۲۰۳
۲۸. فولکلوري طب ........................................ ۲۰۳
۲۹. روهي متلونه ........................................ ۲۰٤
۳۱. فولکلوري سندرې ........................................ ۲۰٦
۳۲. انګۍ ........................................ ۲۰٦
۳۳. اټک کې اسپار ........................................ ۲۰۷
۳٤. ټکونه ........................................ ۲۰۸
۳۵. ټنګ ټکور ........................................ ۲۰۹
۳٦. ټپې ........................................ ۲۰۹
۳۷. څرخ ........................................ ۲۱۰
پایله ........................................ ۲۱۱
وړاندیزونه ........................................ ۲۱٤
مأخذونه ........................................ ۲۱٦

د بخښونکي او مهربان خدای (ج) په نامه

# څو خبرې

څرنګه چې ښايي زه نه ليکوال يم او نه د ليکوالۍ دعوه لرم؛ خو د وظيفوي مکلفيت له مخې چې کومه موضوع راته راسپارله شوې وه، د هغې د بشپړولو د څرنګوالي په باب غواړم، ځينې ټکي ستاسو درانه حضور ته وړاندې کړم.

کوم خواره واره وييونه او عبارات چې ما په څو راټولونکو پاڼو کې سره اوډلي او دا حاضر کتابګوټی ځينې جوړ شوی، سره له دې چې زياتې خلاوې او نيمګړتياوې به ولري چې راټلونکي څېړونکي به دغه کمۍ بشپړې او نيمګړتياوې به سمې او له منځه يوسي. خو له دې سره سره بيا هم هيله من يم چې زما دغه نيمګړی زيار به د څه شېبې لپاره لوستونکي بوخت کړي او ښايي چې له فولکلور ټولوونکو او څېړونکو سره په بېلابېلو اړخونو کې مرسته وکولای شي او د هغوی د استفادې وړ وګرځي.

پخوا له دې چې د سرڅېړونکي مرستيال علمي رتبې ته د لوړېدو لپاره موضوع غوره او کار پرې پيل کړم، په يوې بلې موضوع (دودونه) مې کار کاوه، دا د هغې مشترکې پروژې يوه برخه وه چې (د پښتني فولکلور فرهنګ) په نامه د فولکلور او شفاهي ادبياتو د څانګې غړو (حضرت محمد وياړ، نصرالله ناصر، مجاور احمد مومند او مير احمد ګوربز) ته سپارل شوې وه او هر چا په خپله ونډه کار کاوه.

کله چې په پورتنۍ مشترکه پروژه کې ما خپله ونډه بشپړه او اړوندې څانګې ته مې وسپارله، په دې لټه کې شوم چې د علمي ترفيع لپاره هم بايد يو علمي- څېړنيز اثر وليکم او داسې يوه موضوع وټاکم چې هم د مرکز له لرليدي (دور نمايي) پلانونو سره برابره وي او هم په کار کولو و ارزي او د راټلونکو څېړونکو لپاره هم څه نا څه مواد برابر کړی شي.

موضوع مې په اړونده څانګه کې مطرح کړه، له خبرو او بحث وروسته دا پرېکړه وشوه چې زه بايد د پښتني فولکلور او شفاهي ادبياتو د ټولو شوو چاپي مجموعو په اړه پروژه وليکم. دغه موضوع مې د ۱۳۶۹ لمريز کال په وروستيو ورځو کې له ښاغلي سرڅېړونکي زلمي هېوادمل سره شريکه کړه، نوموړی په ورين تندي دې ته حاضر شو چې په دې موضوع کې به د لارښود استاد په توګه له ما سره مرسته کوي.

هماغه وو چې له هغه سره په مشوره مې د موضوع خاکه ترتیب او لـه اسـنادو سره یـو ځای مې د څانګې غونډې ته وړاندې کړه. ددغې موضوع لیکلو او نورو اسنادو خپل تـول قانونی پړاوونه ووهل او بالاخره د افغانستان د علومـو اکـاډمي د رئیسـه هیئـت د (۴) ۲۴/ ۴/ ۱۳۷۰ نېټې په غونډه کې تصـویب شـوه چـې د کـار مـوده یـې دوه کالـه (لـه ۱۳۷۰/۱/۳ - ۱۲/۳۰/ ۱۳۷۱) او سر لیک یې ((د پښتني فولکلور ټولې شوې مجموعې د کوم روش تابع دي؟)) ومنل شو.

ما په ۱۳۷۰ کال کې د ښاغلي هېوادمل په لارښوونه د ټاکلې موضوع پـه بـاب خپلـې څېړنې پیل کړې چې د ۱۳۷۱ کال د لړم د میاشتې تر پایه مې د پروژې څېړنیزې چـارې پـه سلو کې (۸۵) بشپړې کړې وې او نور خام مواد مې هم راټول کړي وو چې د موضـوع لـه پوره بشپړتیا سره یې مرسته کولای شوای. څرنګه چې زموږ دفترونه تر همدغې نېټې پـورې تر یوې اندازې د استفادې وړ او کار په کې کېدای شو، د مرکز، انستیتوتونو او نورو اړوندو څانګو د اسنادو زیاته برخه په شعبو کې موجوده وه او ډېر لږ اسناد ضایع شوي او له منځـه تللي وو، خو فرنیچر او د دفترونو نور سامانونه چور شوي وو. ما هم په همدې نیامـت چـې دغه اسناد ښایي په دفتر کې محفوظ او خوندي پاتې شي (ما هغه مهال دلته خپـل کـور نـه درلود، ځکه چې کور مې لا پخوا چـور شـوی و)، خـو لـه بـده مرغـه د ۱۳۷۱ لمریـز کـال وروستیو پېښو دا وښودله چې د انسانانو په وژل کېـدو، د ښـار پـه ورانېـدو او د کورونـو پـه نړېدو سربېره رسمي دفترونه هم چور، تالان او د زیاتره دفترونو اسناد وسوځول شـول چـې په دې لړ کې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو په مرکز کې موجود دولتي اسناد، کتابونه، شخصي اسناد او آثار هم په دغه اور کې لولپه شول او اعضـا یـې خـادر پـه اوږه د مرکز له ودانۍ څخه واېستل شول. د کتابونو تحویلخانې یې تشې او کتابونه یې په برالا ډول په موټر و او کراچیو کې نامعلومو لورو ته یوړل شول او خدای خبر چې څه به پـرې شـوي وي.[1] ...؟!

قلمي او ټایپي آثار او نور رسمي سندونه د بخاریو د تودولـو او د چـای او پخلـي پـه چارو کې د اور خوراک شول او لوخړو یې د پښتو ټولنې د ودانۍ دېوالونـه لکـه د نـانوایي هتۍ په تورو غوړاشکو پټ کړل. د دغه علمي مرکز کوټې په کنډوالو بدلې شوې. اوس که یې داسې یو څوک ووینې چې پخوا یې دغه ځای نه وي لیدلی: هیڅکله به هم دا ونه مني

---

[1]. هغه متل دی چې وایي ((د زرو په قدر زرګر پوهېږي)) ما یو وخت د خپل خدای بخښلي نیکه میرزا کریم الله خان کتابونه لټول. د هغه د یوه قلمی اثر په څنډه کې مې دغه نظم تر سترګو شو.
کتابی نوشتم به صد عجزو نیازمبادا افتد به دست کسی که فروشد به نرخ پیاز

چې ګونډې دلته هم رسمي دفترونه موجود وو، پوهانو او څېړونکو په کې خپلې څېړنيزې چارې پرمخ بيولې.

د چپاوونو په دغه سيلاب کې چې چپاولګرو د پښتو ټولنې د ودانۍ د چتونو د دستکو په اره کولو سربېره د دغې ودانۍ دننه او بهر مېوه لرونکې او بې مېوې ونې لـه بېخـه واېستلې، د پښتو ټولنې څو پنځوس کلن اسناد يې د پناه کندې ته وغورځول، زما مسکين کتابونه، د زېړي جريدې اسناد (چې له ماسره وو) او زما د رسمي پروژې پاڼې او... يې هـم د قيمتي آثارو او اسنادو ترڅنګ چور او له ځانه سره يـوړل او يـايې وسـوځول. کلـه چـې زمينه يو څه مساعده شوه او د دفتر خواته لاړم، هغه متل دی، وايي: ((جای و او جولانه و)) چې پرته له څو ماتو مېزونو مې نور څه ونه ليدل، لاسونه مې په تشو کېښودل او له څه شېبې چوپتيا او خواشينۍ وروسته بېرته د پښتو ټولنې له هغه انګړ څخه چې په کنډواله بدل شوی و، ووتلم، څـه مـوده پرېشـانه او خفـه ګرځېـدم، وروسـته دا جملـه را يـاده شـوه چـې ((مـه مايوسېږه رسېږې!) بيا مې سل زړونه سره يو کړل او له ځانه سره مې پرېکړه وکړه چې زه بـه په دې پروژه (که د خدای (ج) رضا وه) له سره کار پيل کوم، خو بيا به مې دا خبره ذهن تـه ودرېده چې بيايې راته ونه سوځوي، چېرې به يې ساتم!!!؟

په هر حال، په دغه وخت کې زما لارښود استاد ښاغلی سرڅېړونکي زلمـي هېوادمـل هم په کابل کې د ناکراريو او کور ورانوونکې جګړې د ناوړه شرايطو تر اغېزې لاندې نـور د شپو او ورځو تېرولو توان نه درلود، نو ځکه کوزې پښتونخوا ته ولېږدېد.

ما چې له يوې خوا د خپلې علمي پروژې يو کاغذ هم په واک کې نه درلود او له بلې خوا مې لارښود استاد هم له هېواده وتلی و، کور او دفتر مې پـه سـپيرو ډاګونـو او کنـډوالو بدل شوي وو، په دې تورتم کې مې بيا په خدای (ج) توکل وکړ او دا جمله مې ځـان تـه د تسلې ورکولو په خاطر ورو ورو زمزمه کوله ((تصميم د بري لومړی شرط دی.)) يا دا چې: (خدای (ج) مهربان دی، ګونډې سوله راشي او...!).[٢]

په همدې توسن په دې لټه کې شوم چې د خپلې پروژې يو فهرست ترلاسه کړم. وايي چې ((جوينده يابنده است))، همدې متل ته په پاملرنه مې له زيات هاند او هڅې وروسته د دغې موضوع فهرست د افغانستان د علومو اکاډمي د هغـه مهـال د سلاکار لـه دفـتر څخـه ترلاسه کړ چې هغه مې له محترم استاد څېړندوی عبدالله بختانی خدمتګار سره په مشوره بيا

---

[٢]. د دې اثر له ليکلو څخه شپږ ويشت کال تېر شول، خو بيا هم افغانانو سـوله ونـه ليدلـه او هوسـاينه يـې پـه برخـه نـه شوه...!؟

ترتیب او څه لازمي او ضروري زیاتوني مو هم په کې وکړې، څه سر به مو خوړوم، د پروژې د کار د مودې د تمدید او د بل لارښود استاد له ټاکلو وروسته مې خپل کار پیل کړ.

نوموړي استاد سربېره پردې چې د پروژې د چارو په ښه سمبالښت کې یې وخت په وخت ګټورې مشورې راکړي او لارښوونه یې راته کړې ده، په خپل خپل وخت یې زما تر سره شوي کارونه په پوره حوصله کتلي چې په دې لړ کې یې زه د خپل کار د لا ښه کېدو خواته ځیر کړی یم.

استاد بختاني خدمتګار سربېره په لارښوونه د خپل ځانګړي کتابتون آثار هم ماته د استفادې لپاره راکړي دي، چې زه د هغه له دغې علمي مرستې او پېرزوینې څخه ډېره ډېره مننه کوم.

همدارنګه له محترم سرڅېړونکي زلمي هېوادمل څخه هم د زړه له کومې مننه کوم چې له ما سره یې د دغې موضوع په طرحه، ډیزاین او د انفرادي پلان په ترتیب او د اخځونو په ښودلو کې پوره مرسته کړې ده. ټولو ته څرګنده ده چې په اوسني وخت کې اکثره علمي آثار چور و چپاول یا سوځېدلي او یا تر خاورو لاندې شوي دي او د استفادې وړ نه دي. زه له همدې امله د خپل کار په بهیر کې خصوصاً د اخځونو په پیدا کولو او یا ترلاسه کولو کې له سختو ستونزو سره مخامخ شوم.

تر کومه ځایه چې ماته معلومه ده، په دغې زماني مقطع کې د افغانستان د اسلامي دولت د علومو اکادمي کتابتون به په کابل کې یواځینی کتابتون وي چې د مراجعینو پرمخ خلاص دی او د کابل دعامه کتابتون یواځینی ځانګه چې مراجعین ترې څه نا څه استفاده کولی شي، هغه هم د مجلو او جریدو څانګه ده.

ما سربېره پر دوو پورتنیو مراجعو چې له ټولو کارکوونکو څخه یې مننه کوم او خاصتاً د افغانستان د علومو د اکادمي د کتابتون له مشر سرڅېړونکي ډاکتر مددي نه زیاته مننه کوم چې ماته یې په سختو او ستونزمنو شرایطو کې له کتابتون څخه د ښې او ګټورې استفادې زمینه برابره کړې ده. همدارنګه په ترتیب سره له لاندینیو محترمو پوهانو څخه زیاته مننه کوم او کور ودانی ورته وایم چې د خپلو شخصي کتابتونونو آثار یې ماته د استفادې لپاره راکړي دي او د هغو په لټولو کې یې په ځان ستونزې منلې دي. دلته به په ترتیب سره د هغو ښاغلو پوهانو نومونه یاد کړم چې د خپلو کتابتونونو آثار یې ماته د استفادې لپاره راکړي او خپلې مرستې یې نه دي سپمولي:

۱. سرڅېړونکی زلمی هېوادمل.

۲. څېړندوی عبدالله بختانی خدمتګار.

۳. اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد.
۴. د سرڅېړونکي مرستیال دکتور خلیل الله اورمړ.
۵. د سرڅېړونکي مرستیال عبدالواجد واجد.
۶. څېړونکی نصرالله زرمتی.
۷. سرڅېړونکی علی محمد منګل.
۸. د سرڅېړونکي مرستیال عبدالجبار نادر.
۹. د سرڅېړونکي مرستیال میر احمد ګوربز.
۱۰. د سرڅېړونکي مرستیال محمد یاسین رسول.
۱۱. انجنیر عبدالمتین، د طبیعي علومو د مرکز علمي غړی.
۱۲. غلام صدیق شینګنک، د سرحدونو چارو د وزارت کارمند.

همدارنګه مې ځینې آثار له بازار څخه هم رانیولي او بالاخره مې دغه ناڅیز اثر ترتیب او بشپړ کړی دی چې ستاسو درانه خدمت ته یې وړاندې کوم، ښایي له ما څخه ځینې آثار پاتې شوي وي. که څه هم ما زیاته هڅه وکړه چې ټول اړوند آثار دلته معرفي او وڅېړم، خو بیا هم د پورته یادو شوو ستونزو له امله د ځینو آثارو په تر لاسه کولو بریالی نه شوم، د بېلګې په ډول (روهي سندرې). اولسي سندرې (دریم ټوک) او داسې نور.

په پای کې له ښاغلو لوستونکو څخه زما هیله دا ده چې په عالمانه لارښوونو به ما خپلو تېروتنو ته ملتفت کړي، څو د دوی په سلا مشوره د دغه اثر نیمګړتیاوې سمې او د یوه سالم اثر په توګه د چاپ جامه واغوندي.

په درنښت

څېړونکی نصرالله ناصر

کابل- بي بي مهرو (رح) ۱۰/۲۲ /۱۳۷۳

**د لاربسود استاد نظریه:**

# د پښتني فولکلور ټولې شوې مجموعې

## د کوم روش تابع دي؟

## د کتاب په باب

په ډېرو لرغونو زمانو کې د ژوندانه د پایښت او پرمختګ لپاره بني آدمانو پرلـه پسې زیار اېستلی دی، څو چې یې د ذهن استعدادونه په عمل کې راغلي دي، فکر او خبرې یې کړي، د نن او سبا په غم کې شـوي، کاروبـار یـې مـنظم کـړی او ورتـه یـې دوام، اسـتمرار، انکشاف او ارتقا بخښلې ده.

له همغو وختونو څخه یې د ژبې سرته زونګې ورغلي او سندرې تـرې جـوړې شـوي دي. په کار کې د بریالیتوبونو او ناکامیو او د ژوندانه د خوږو ترخو له تجربو څخه یـې، د متلونو په شان د ژوند او پند مرغلرې له خولې تویې شوي دي. د ژوندانـه د سـفر او مـزل د کړلېچونو او پېچو مو په لوړو ژورو کې یې د کار، عمل، قربـانیو او قهرمـاني، لـه یـادونو او ستاینو څخه نکلونه او داستانونه جوړ شوي او د ټولنیز سولهییز ژوند لـه مراوداتـو، روابطـو، کښیناستو پاڅېدو څخه یې دود و دستور منځ ته راغلی دی.

کله چې په دې هلو ځلو د بني آدم یاغي جذبات د عقل په رسۍ تړل شوي، دیـن تـه یې غاړه ایښې، د تمدن په بنسټونو یې تیږي ایښي او د نړۍ د ودانۍ پر دیوالونو یې خښـتې لګولي، نو ورسره څوکه څوکه غریزي حرکتونه یې هم مهار شوي او په نتیجه کې یې د یو لړ ټولنیزو نظامونو خاوند شوی هم دی.

کله چې انسانان د پېړیو په پوړیو، نور هم د تمدن ماڼۍ ته په بره ختل، نو د دې تـګ ودو په مسابقه کې، د دوی ترمنځ، د منزل په طریقو، د منزل په پېژنـدلو او ټـاکلو، د یـو څـه ګټلو، یو څه بایللو او یو څه لرلو په سر، د تضادونو په اثر تصادمونه پېښ شوي، جنګونه او جګړې، غالب او مغلوب فاتح او مفتوح په کې پیدا شوي، بیا نو د ځمکې د دې خاورینې کرې پر سر، کله کله، دلته هلته، یو تمدن، یوه معـاشره او ټـولنیز جوړښـت، لـه خپلـو ټولـو فلسفي، سیاسي، اجتماعي او عقیدوي ارزښتونو سره، ظاهراً له منځه تللی او بل پرې حـاکم

شوی دی. بیا هم د وګړو ترمنځ، د پخواني نظام یو څه فکري او ذهني مسلط ارزښتونه خو پاته شوي مګر، یو څه مخفي شوي، یو څه د نوي جوړښت له ارزښتونو سره ګډ او متداخل شوي او یو څه په پخوانی محتوا، په نوي شکل او په بل رنګ ښکاره شوي دي. یعنې د نوي نظام د تسلط په دوران کې، د زاړه نظام رسمي قانوني ارزښتونه، که ظاهراً منسوخ شوي هم وي، بیا یو هم یو څه د خلکو په افکارو، کړو وړو، روایاتو، سندرو، داستانونو، انګېرنو، متلونو او ژبنیو پانګو، په تېره اصطلاحاتو کې، په یو او بل ډول پاته شوي او په پېړیو پېړیو یې د مروجو ارزښتونو په ډول دوام موندلی دی.

د ټولنې او تاریخ د څپاند سمندر په تل کې، د دغسې رسوبي ارزښتونو د تبارز یوه روښانه زمینه، مونږ د فولکلور په نامه پېژنو، مګر، په دې فرق چې د فولکلور اصلي مواد خو د انسان د تمدن له لومړنیو لرغونو پېړیو څخه موجود وو. د بشر-له تاریخي - ټولنیز خوځښت، بدلون او بشپړتیا سره یې ورو ورو حرکت کړی، تحول - انکشاف او غنا یې موندلې او په ډېر مبدل شکل یې تر مونږ پورې ځان را رسولی دی. او که د بشر دغه تاریخ یوه افسانه وي نو دغه افسانه هم یو تاریخ دی. دې سره او په دې باب کې، زمونږ پوهنه او پېژندنه، د یو علمي خدمت او حرکت په ډول، د دې افسانوي نړۍ په تاریخ یا ددې تاریخي جهان په افسانه کې، ډېره نوې او نابالغه ده.

یعنی د انساني ټولنې د پېړیو پېړیو په دې زړه نړۍ کې، یوازې په دې وخت، یعنې په دوو وروستیو پېړیو کې، مونږ فولکلور پېژندنه، ټولونه او څېړنه، د یوې علمی رشتې په توګه پېژندلې ده او په دې لار کې مو هم بیځایه قدمونه ایښي او هم مو پر ځای ګامونه اوچت کړي دي. دا لومړي کارونه هم د بشر پېژندنې او تاریخ پوهنې په عامه پروسه کې، او ورسره تقریباً په یو ځایي ډول، پیل شوي دي. او هغه هم داسې چې کله کله یا ډېر ځله بشر-پېژندنه، ټولنپوهنه، تاریخ، جغرافیا، ادبیات، فولکلور او ان سیاست، یو تر بله سره ګډوډ د یو مؤلف په یو اثر کې ټولنې ته وړاندې شوي دي.

د علومو او معلوماتو د بهیر دغه ګډ ژوند تر هغه پورې دوام موندلی دی چې د بشري ټولنې د ګډ ژوند په اعماقو کې د انفرادیت ریښې قوي شوي او د کارونو او پوهنو د تراکم له امله رشتې او څانګې سره بېلې او د علومو په ساحه کې د تبحر ځای تخصص نیولی دی، بیا نو د هر ډول علمي خدمت حدود او ثغور ټاکل شوي، اصول او قوانین ورته وضع شوي، دودونه او میتودونه یې ښودل شوي دي. نو ځکه هغه کار چې نن ترسره کېږي د نن د میتود په تله برابر، د پرون په تیره لړ څه کم، د ورمې ورځې په وزن ډېر کم خېږي او د لا ورمې ورځې په میزان به هیڅ وزن ونه لري. ځکه چې په هغه ورځ خو دا د نن (میتود) لا له موره

زېږېدلی نه و. د همدې لامله، د هر علمي – هنري اثر په شان د فولکلور پېژندنې، ټولونې او څېړنې په ساحو کې هم د هرې ورځې کار د هماغې ورځې په تيره تللی کېږي.

د مثال په توګه، لرې به نه ځو، کله چې د استاد قيام الدين خادم د (پښتو نولي) په نامه کتاب خپرېده (۱۳۳۱ هـ.ش- کابل) نو دلته، زمونږ په تاريخي لرغوني هيواد کې د فولکلور ټولونې او خپرونې ډېر لومړني قدمونه اخيستل شوي وو، مګر د ميتود په باب کې يې هيڅـا څه نه وو ويلي، ځکه چې لا هيڅوک په څه نه پوهيده په همدې وخت (۱۳۳۱- ۱۳۳۲ هـ. ش) ما (پښتني خويونه) ليکل او ايله همدومره پوهېدم چې پښتون يو با شهامته قـوم دی. د دنيا د نورو ساهو قومونو په شان خپل روايات، دودونه، نرخونه او عادتونه لري او ددې ټولو له مجموعي نه (پښتنولي) جوړه شوې ده.

نو ما به يوازې ددې قوم پر عاداتو او اخلاقو مقالې ليکلې او پـه زړه کـې مـې هـم دا خبره نه تېريدله چې دا به کومه ورځ، د فولکلوري څېړنې له نظره، په خارج او داخل کې، د چا پام ځانته واړوي او يا به يې څوک پر ميتود خبرې وکړي.

مګر، نن، د نړۍ د پوهانو او موسسو د پرلـه پسې پراخـو کـارونو او تجربـو پـه اثـر د فولکلور ټولـونې لپـاره اصـول، قـوانين او ميتودونـه ټاکـل شـوي دي، ددې عصر ـ فولکلـور ټولوونکي د هغو په رڼا کې کار کوي. له بلې خوا د نولسمې او شلمې پېړۍ پـه بهـير کـې، زمونږ په تاريخي هيواد او د نړۍ په نورو برخو کې، ښاغلو مولفـانو د فولکلـوري مـواد و او مسايلو يو لړ کتابونه، يا په کتابونو کې يو لړ فولکلوري مواد او مسايل چـاپ کـړي دي. لـه دغو آثارو نه په خپلو وختونو کې لازمی استفادې شوي دي او ليا به کېږي. مګر د يـو کـل په توګه، دغه نفيس کلکسيون بې له شکه د اوسنيو او راتلونکو څېړندويانو لپاره د څېړنې په زړه پورې مواد وړاندې کوي نو د هغه ساتل او حتی بيا چاپول خو مفيد کـار دی. دې سره، ددې وخت په معيارونو د هغو پېژندلو تـه هـم ډېـر ضرورت احساسـېږي، خـو چـې زمـونږ ښاغلی اخلاف د خپلو درنو اسلافو د احترام تر جذبې لاندې د ((تقليد)) په نـاروغۍ اختـه نه شي او په خپلو چارو کې اوسنيو معيارونو ته پوره توجه ولري.

نو د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز نخښنه رسا ويشتلې ده چې ددغـه مرکز ځوان محقق، ښاغلي نصرالله ناصر ته يې دا وظيفه ورپه غاړه کړه چې دغسې کتابونه د فولکلور ټولونې د ميتود له مخه وپلټي. نوموړي هم ناراستي ونه کړه او په خالي تش ميدان يې، دې ګران کارته، د همت ملا وتړله.

په داسې شرايطو کې چې زمونږ په هيواد کـې د جګـړو او رونـه بـل دي او لمبـې يـې آسمان ته خېږي. د علومو تکړه استادان يا له وطن نه مهاجر شوي او په بهرنيو ملکونو کـې

اواره ګرځي او يا له نړۍ څخه بهر د آخرت په سفر تللي دي.

کتابخونې زياتره لوټ شوي، سوي او کنډر شوي دي او کوم چې پاته دي په امن کې نه دي. نن يې دروازه پرانيستې او سبا تړلې ده. پرون يې ښيښه ماته وه او نن يې کړکۍ اېستل شوې ده، دا کتاب په کې شته او هغه نه... نو ښاغلي ناصر جرائت څه چې جسارت يې کړی دی. خپل کار پسې شوی دی. له ما او تا نه يې د مدارکو پوښتنې او غوښتنې کړي او څه چې يې موندلي د هغو پر بنا يې خپل کار سرته رسولی دی.

نوموړي خپل اثر په پنځو څپرکيو (بابونو) کې ليکلی چې هر څپرکی يې ځانله بېلې برخې (فصلونه) لري. تر سريزې وروسته يې کلتور او فولکلور څېړلي، بيايې د فولکلور ټولونې لارې چارې ښودلي، ورپسې يې د پښتو د فولکلور ټولونې او څېړنې په پس منظر کې د موضوع تاريخي جاج اخيستی او بيايې دا خبره څېړلې ده چې په عمومي ډول، پښتني فولکلور د کوم منل شوي روش په اساس راټول شوی دی؟ چې ددې پنځم څپرکي په وروستۍ برخه کې، ددې موضوع (۱۱۵) چاپ شوي کتابونه هم ځانله ځانله معرفي شوي او مولف د هر يو په باره کې خپل انتقادي نظر هم څرګند کړی او دايې ښودلي دي چې نوموړی اثر د فولکلور ټولونې په اوسني ميتود برابر دی او که نه؟ د کتابښود دغه برخه په دې هم مهمه ده چې په عين حال کې يو منظم ارزښتمن ببيليو ګرافيکي کار هم دی. چې په دې کې د نورو کتابونو په باب د مولف نظريات د فولکلور ټولونې په معاصر منل شوي ميتود متکي بولم او د هغه د ټاکل شوې علمي وظيفې په حدود کې يې په ځای ګڼم.

دې سره او له دې موقع نه په استفاده، زه پخپله د ميتود د يو شرط په باب خپل افاقي نظر د هيواد او نړۍ د علمي ټولنو دانشمندانو او همدارنګه ددې ميتود د واضعانو او ميتوديکو واعظانو د توجه لپاره داسې وړاندې کوم.

د فولکلور ټولونې د معاصر ميتود يو شرط دادی چې د فولکلوري موادو راويان بايد وښودل شي. دا ښه او ضروري شرط دی. مواد پرې کره او ثقه کېږي. دې سره، يوازې په دوو مشخصو برخو کې، زه استثنا باندې قايل يم:

۱. ځينې آثار داسې دي چې د فولکلور ټولونې د معاصر ميتود د تثبيت او ترويج نه دمخه تاليف شوي دي او په هغو کې فولکلوري مواد، خصوصاً لنډۍ، اولسي- سندرې او متلونه ثبت شوي دي. نو که د هغو بېل بېل راويان ښودل شوي هم نه وي، مونږ بايد حق ولرو چې پخپله مؤلف يا مدون د هغو راوي وبولو.

۲. ځينې آثار اکاډيميک حيثيت لري. د څېړونکو او علمي موسسو د استفادې لپاره وي، دا بايد په ميتود پوره برابر وي. د ټولو معيارونو، شرايطو او د ميتود د غټو وړو خبرو

رعایت په کې وشي او ټول راویان او یا وریانتونه یې وښودل شي. او ځینې نور آثار بیا دعـا مې استفادې لپاره وي. عام خلک خپلو ملي سندرو، متلونـو او داسـتانونو سره علاقـه لـري. ځان په کې ګوري. د خپل زړه اواز ترې اوري، نو ځکه ورته غوږ ږدي او لولي یې. کـه پـه دې کې راویان، دراویانو کړه وړه، او د متن وریانتونه راواخلو بیا نو د عامو لوستونکو لپاره د استفادې ساحه تنګیږي او د چاپ او خپرونې اصلي هدف ته حتی تاوان هم اوړي. د عامو لوستونکو او اوریدونکو احساسات فقط په متن ترضیه کېږي دوی دې پسی نه وي، او ورته ضرورت هم نه لري چې راوي یې څوک او څنګه دی؟ مګر لـه دې نـه خونـد اخـلي چـې چېرته یې ولولی یا له چانه یې واوري:

شمالي لاله زار باشد به من چه؟
زمستانش بهار باشد به من چه؟

یا

ماته په سترګو کې حال وایه!
لارې کوڅې له غمازانو ډکې دینه

دا لنډۍ خو مې په سلها و ځله اورېدلې او لوستې ده. که زه د لنـډیو کومـه مجموعـه راټولوم یا ترجمه کوم، نو ددغسې لنډیو راوي به څوک وښیم؟

د ښاغلی ناصر د اثر دا تاثیرو چې پر ما یې، په بین المللی سویه یو پیشنهاد وکـړ. نـور نو په عمومي ډول د هغه کار او زیار په دې هم ستایم چې په خپله نوعه کې نوی کـار دی. له نوښت سره یې شکلیات سم او څېړنه دقیقه، علمي او بې طرفه ده. په میتود برابر کار یـې برابر ګڼلی او نابرابر یې نا برابر همدا یې علمي وظیفه وه.

نوموړي پر ډېرو ماخذونو استناد کړی دی، ځینې یې ډېر مشهور آثار دي. په دې کې د لرې او برې پښتونخوا او خارجي لیکوالو آثار او په پښتو کې د بهرنیو مستشرقانو د لیکنـو ترجمې شاملې دي. دا زیاتره هغه کتابونه دي چې په کابل، پېښـور، کویټـه او دوشـنبه کـې چاپ شوي دي. ټایپي نسخې هم په کې دي چې زما په نظر د خطي نسخو حکم لري.

زیاتره کتابونه او رسالې او یو څه په مجلو او جریـدو کـې خپـرې شـوې مقـالې دي. مولف پر ځیو لیکلو خطی یا دښتونو هم اتکا کړې ده، دایې هم د تلاش یوه نخښـه ده. پـه موجودو شرایطو کې، ددې کار لپاره، زه موجوده مآخذونـه پـوره کـافي بـولم او د هغـو پـه موندلو مولف ته شابسی وایم.

په کتاب کې، د موضوع د زیات وضاحت لپاره، د مولف ځینې یادونې تکـرار شـوي دي. ما ترې خواهش وکړ چې د چـاپ وخـت کـې دې، تـر ممکنـه حـده پـورې د تکـرار

مخنیوی وشي. دا یوه تخنیکي نشراتي مشوره ده. دې تکرارونو سره د موضوع علمي اړخ ته کومه صدمه نه ده رسېدلې بلکې له توضیح سره یې مرسته کړې ده. ما نوموړی ته نورې مشورې هم ورکړې او هغه ومنلې او دې سره زه د هغه کار بشپړ بولم. په دې بریالیتوب ورته مبارکي وایم او وړیې ګڼم چې د (محقق) له درجې څخه (د سرمحقق مرستیال) علمي درجې ته ارتقا وکړي.

په درناوي

ستاسو خدمتگار (عبدالله بختانی)

ننګرهار- د ۱۳۷۳ کال د دلو ۱۲ مه

# تقريظ

کله چې د (فولکلور) نوم اخلو، نو ورسره جوخت زموږ د فکر نیلی ډېرو لرغونو زمانو ته وځغلي، هغو زمانو ته چې لا تر اوسه د تاریخ پوهه نه ده ور رسېدلې او لا ډېرې هڅې په کار دي چې د بشري ژوندانه دغې ارتې اوله پرېمانه حقایقو ډکې ورشو ته لاره پرانیزو او د ښکلو او زړه وړونکو مناظرو ننداري ته يې ځان ورسوو. فولکلور داسې يوه پراخه او ناپایه خزانه ده چې تر څو انساني بصیرت کا رکولای شي، په هماغه اندازه نوې او لا نوې او د لیدلو وړ ملغلرې په کې زموږ پاملرنه جلبوي. فولکلور يو نه ایلېدونکی تو پاني دریاب دی چې له ډېرې لرغونې ماضي څخه سرچينه اخلي، د پېړيو په پوړيو کې اوړي را اوړي او له پرېمانه حکایتونو سره يوځای تر موږه ځان رارسوي، له همدې امله کېدای شي ووايو چې (فولکلور) په بشري ژوندانه کې د بدلونونو او اوښتونونو ښکارندوی هم دی، په فولکلور کې زموږ ماضي، حال او استقبال سره کوشېرېږي. فولکلور زموږ د پلار نیکه د ژوندانه طبيعي او بې الایشه انعکاس دی، فولکلور د ژوند په بهير کې انساني تجربه ده، مينه ده، کرکه ده، خو اشينتيا او خوشحالتيا ده. هيله ده، ارمان دی، له همدې امله بې څه نه ده چې ووايو فولکلور د ژوند پېښو په اړه د انساني عمل – عکس العمل دی او د پوهې او بصیرت په زیاتوب کې يې يوه ممده او اغېزمنه وسیله ده.

ښايي يادونه وشي چې د فولکلور دغه پراخ بعديزه ننداره او دغه پراخ بنسټه تاداوونه ددې باعث وي چې موږ ته په دې برخه کې هره هڅه او هر ګام په زړه پورې او دلچسپ شي او موږ په ډېره مينه جلب کړي. بې څه نه ده چې د ښاغلي ناصر دغه اثر هم يو د دلچسپۍ وړ او له خوندونو ډک اثر وبولو، ځکه چې له يوې خوا موږ په عامه توګه د فولکلور له خوندورې دنيا سره اشنا کوي او د هغې په کم و کيف مو خبروي او له بلې خوا مو په خاص ډول ددې لارې له لارويانو سره يو ځای په سيستماتيک ډول د هغو منظرو ننداري ته کښېنوي چې زموږ په خپل ټولنيز جوړښت – پښتنې ټولنه کې هست شوي او د جمال درجې ته رسېدلي دي.

په بله وينا، کېدای شي ووايو چې د ښاغلی نصرـالله ناصر دغه اثر د هغو پراخو معلوماتو يوه مجموعه ده چې تر اوسه پورې زموږ د څېړونکو د پلټنو په لړ کې رابرسېره

شوي دي.

ددې اثر محتوا ښيي چې د ښاغلي لیکوال زیاته پاملرنه د پښتني فولکلور څېړنې میتودیک اړخ ته متوجه ده او غواړي دې پوښتنې ته ځواب ومومي چې د پښتني فولکلور پوهنې په ساحه کې رامنځ ته شوي آثار د څېړنې د اوسنیو منل شوو معیارونو په تله برابر دي که یه؟

ترکومه ځایه چې ښکاري لیکوال په خپله څېړنه کې خپلې پورتنۍ موخې ته د رسېدو لپاره له تشریحي او انتقادي میتود نه کار اخلي او ډېر بریالی پرمخ ځي. کېدای شي ووایو چې لیکوال په دې بریالی شوی دی چې ددغو میتودونو په رڼا کې خپل اثر هست کړي او په مینه یې د فولکلور مینانو ته وړاندې کړي. په دې اثر کې د لیکوال هڅه داده چې د پخوانیو او اوسنیو څېړنو له درناوي سره سره اوسني فولکلوریستان د علمي او منل شوو روشونو له رڼا سره یو ځای راتلونکو څېړنو ته رهنمایي کړي، له همدې امله د ښاغلي ناصر دغه اثر ځوانو فولکلوریستانو ته د یو لارښود حیثیت غوره کولای شي. ددې اثر غوره ښېګڼه داده چې د یوې روښانه هیندارې په حیث د پښتو فولکلور پوهنې ټولې هڅې زموږ مخې ته ږدي او موږ د هغو له مندرجاتو سره پوره پوره اشنا کوي. دا هم باید هېره نه کړو چې په دې اثر کې له تاریخي میتود څخه هم ګټه پورته شوې ده او په دې توګه موږ د پښتو فولکلور څېړنې کرونولوژي جریان هم په کې لیدلای شو، دغه میتود موږ ته هغه مرغلین تار برېښي چې د فولکلور څېړنې دغه راز روش ښایي زموږ ځوان فولکلوریستان دې ته وهڅوي چې فولکلور څېړنې ته په ساده سترګه ونه ګوري او اصالت ته یې له درناوي سره سره په علمي او اکاډیمیک نظر دغې پراخې نړۍ ته ورننوځي، او په دې توګه دغه نا پایه خزانه لکه څرنګه چې ښایي معرفي کړي او خپلو راتلونکو نسلونو ته یې د یو درانه میراث په توګه پرېږدي.

تر کومه ځایه چې برېښي ښاغلی ناصر د خپلې لیکنې په ترخ کې ډېر محتاط هم دی، بې بنسټه او بې دلیله حکم نه کوي، تشریحي سیستم یې خوږ، ساده او بې تکلفه دی او انتقادونه یې هم د لطافت  په وریښمین ټوکر کې نغښتي دي او بې ګودره موزې له پښو نه، نه باسی. په دې برسېره دده زیاته هڅه داده چې عنوان او معنون سره موازي کړي او هره خبره د عنوان له تقاضا سره سمه راولي خو داسې برېښي چې د ضرورت په وخت کې یې دغه الزام ته غاړه نه ده ایښې او د اضافي مګر موجه معلوماتو له راوړلو څخه ډډه نه کوي.

دغه راز هڅه موږ ته دا واقعیت راڅرګندوي چې لیکوال تر زیاتې اندازې د یو ښوونکي مسئولیت غوره کړی او غواړي زیاتره هغه پوښتنې ځواب کړي چې د یو

لوستونکي په مغز کې راځرخي.

لنډه دا چې ناصر په دغه اثر کې ((دریاب په کوزه کې ځای کړی دی)) ځکه له یوې خوایې د فولکلور پوهنې تیوریک اړخونه له یاده نه دي ایستلي او په ډېره موجزه توګه یې په دې برخه کې د څېړنو نتایج په ګوته کړي دي او له بلې خوایې موږ له (۱۱۵) هغو آثارو سره هم آشنا کړي یو چې د پښتو فولکلور څېړنې په ساحه کې د کورنیو او بهرنیو پوهانو له خواهست شوي دي. له همدې امله دا اثر د یو عمده ماخذ حیثیت هم لري.

که چېرې د خبرو د اوږدیدو مخه ونیسو نو به ووایو چې دغه اثر د زیات کړاو پایله ده، ځکه له یوې خوا لیکوال زیات پیدا او پناه آثار چې په اوسنیو شرایطو کې یې ترلاسه کول، په تر وږمی کې د سپوږمی د لیدلو هڅه ده، په زیاته حوصله مندي پلټلي او کتلي دي او له بلې خوا یې په داسې حالاتو کې د لیکلو تکل کړی دی چې قلمونه د پرله پسې کور ورانوونکې جګړې له امله خواشیني برېښي.

ددې او داسې نورو ښېګڼو له امله زه دغه اثر یو علمي اثر بولم او په داسې حال کې چې لیکوال ته د زړه له کومې مبارکي وایم، هیله من یم چې ښاغلي ناصر ته دې، ددې درانه اثر د کښلو له امله د څېړونکي له علمي رتبې څخه د سر څېړونکي مرستیال علمي رتبې ته ترفیع ورکړلای شي.

په درناوي

د سرڅېړونکي مرستیال نور محمد سهیم

# تقریظ

که دا خبره د څرګند واقعیت په توګه ومنو چې فولکلور ټاکلی تاریخ نه لري له امکان نه لرې خبره نه ده، ځکه چې د فولکلور پیلامه د بشري تمدن له لومړیو وختو څخه را پیل کېږي او د اوږد زماني واټن په اوږدو کې له یوه نسل څخه بل نسل ته په میراث پاتې کېږي. دغه اولسي ارزښتناکه پانګه د بشري ټولنو د ژوند د بېلابېلو اړخونو د روښانتیا لپاره د یو مهم توک په حیث کارول کېدای شي، او کېدای شي چې د یوې ټولنې د ټولنیز ژوند هینداره یې وګڼو او د شاعر دغه وینا هم ورسره تصدیق کړو چې وایي:

د هر قوم راز معلومیږي له قصو څخه

د هر چـــا هینداره خپلې افسانې دي

(نوري)

په فولکلور کې موږ تربیتي، تعلیمي، اخلاقي، او ان صحي او روحیاتي مسایل موندلای شو چې د پېړیو پېړیو په بهیر کې د انسانانو د زیاتو تجربو او ګروېږنو محصول یې وګڼو او موږ ورڅخه د ژوند په دغو ساحو کې مثبه او ګټوره استفاده کولای شو. موږ په افغاني ټولنه کې هم د اصیل فولکلور خورا ښې بېلګې موندلای شو او ددغو اصیلو موادو راټولول او خوندي کول خورا د اهمیت او قدر وړ ګټور کار ګڼل کېږي او د فولکلوریستانو اساسي دنده هم داده چې پرېږدي چې دغه ارزښتناکه خزانه د انسانانو له مړینې سره یو ځای د هغوی په سینو کې تر خاورو لاندې شي. که څه هم زموږ یو شمېر لیکوالو او فولکلوریستانو په دغه برخه کې څه نا څه تر خپله وسه پورې هلې ځلې کړي دي، خو بیا هم دا کار نیمګړی پاتې دی. په دغه برخه کې د ځوان نسل دنده ده چې هغوی د خپلو پلرونو دغه تاریخي او ارزښتناکه خزانه د خپل همت، کار او څېړنې په برکت سره خوندي او ثبت کړي.

د بشري تمدن وده خورا ګړندۍ پرمخ روانه ده، بشري ټولنې د ساینس، کمپیوټر او کیهان ساحې ته ځانونه رسوي، د ژوند له دغه عصري پرمختګ سره نوي مسایل او موضوعات رامنځ ته کېږي، زاړه مناسبات او عنعنې زیاتره په نوو بڼو سره را څرګندېږي او یا د له منځه تللو خواته حرکت پیل کوي.

د کلو او بانډو اوسېدونکي زیاتره ښار او عصري سیمو یا ښاري سیمو ته ځېرمه ژوند اختیارول او میشته کېدل غوره ګڼي د مهاجرتونو او تګ راتګ زمینه ورځ په ورځ آسانه کېږي د همدغو فکټورونو پر اساس اصیل او کلیوالي فولکلوري موضوعات د هېرېدلو او له منځه تللو سره مخامخ کېږي. بیا هم ددې خبرې ضرورت او اړتیا رامنځ ته کېږي چې په هره بڼه چې وي دغه ارزښتناکه خزانه باید د حوادثو له څپو څخه خوندي پاتې شي. خو په دا ډول یې خوندي پاتې کېدل هم د انصاف وړ کار نه دی، لکه چې په دا وروستیو وختونو کې یو شمېر څېړونکو د فولکلور د راټولولو په نامه، دوریانټ او د فولکلور ټولونې د میتود پر اساس چې راوي باید معلوم وي او د هغه ټول مشخصات باید یاد کړل شي له دغه نوي میتود څخه په استفادې سره یو شمېر ځوانانو یوازې یو نکل د خپلې سیمې په لهجه سره ثبت کړ، د موږ پر ځای یې (میږ) ولیکئ او د پښتنو د فولکلور اصیل نکلونه چې په ټولو سیمو کې رواج او عمومیت لري د خپلو سیمو د نکلونو په نامه یاد کړي، د بېلګې په توګه د بامیان نکلونه، د ننګرهار او کندهار نکلونه، د پکتیا نکلونه... په همدې ډول نور کله چې د اثر متن ته رجوع وکړله شي هلته موږ د آدم خان او درخانۍ نکل په کې موندلای شو، نو تاسې خپله قضاوت وکړئ چې د آدم او درخانۍ نکل موږ د کوم ولایت او کومې سیمې نکل وګڼو!

هلته په نکل کې په ډاګه سره په یوه ناره کې داسې راغلي دي:

که دوې دي دوې دي د کلا بس دروازې دوې دي

په یوه یې آدم وځي په بله یې د مور سوې نارې دي

کلا بس، د (کلا بست) عوامي تلفظ دی او د بست تاریخي کلا په لښکر ګاه یا هلمند کې موقعیت لري، د نکل اصلي قهرمان او هیرو هم د همدغې سیمې دی بیا نو څه اړتیا شته چې موږ دغه نکل د ولایتونو د نکلونو تر عنوان لاندې ثبت کړو. دانه د فولکلور ټولونې میتود او نه فولکلوري مواد دي فقط دومره کېدای شي چې په پای کې له موږ څخه اصلي نکل او کیسه ورکه شي، د ولایتونو په نومونو پسې به ګرځو؟ او نه به دا وریانټ وي چې نکل په یوه او بله لهجه سره ولیکو او دوریانټ اصطلاح ورته وکاروو. زه په دغه برخه کې بشپړ معلومات نه لرم خو دومره ویلای شم چې وریانټ به هغه مشخصات او مشترک خصوصیات چې یو کیسه یا نکل یې ولري او هغه په بله لرې سیمه او هیواد کې وموندل شي. د بیلګې په توګه، د یوه شرق پیژندونکي په قول د آدم خان او درخانۍ نکل، د شهزاده بهرام او ګل اندامې نکل د داغستان په جمهوریت کې په یوه کلي کې د کوم سپین ږیري له خولې نه ثبت کړي، ددغسې انتقالاتو او لېږدونو وریانټونه که څرګندېږي دا به پر ځای

خبره وه. که څه هم دغه نکل په هغو سيمو کې په پښتو ژبه نه بلکې د داغستان د خلکو په محلي ژبه او روسي ژبه سره د خلکو په ياد دی. که موږ ددغې خبرې جاج واخلو کله چې د هوتکي امپراتوري له سقوط وروسته د هوتکي قبيلې په سلګونو کورنۍ، ايران، مازندران، او داغستان او ځينو نورو سيمو ته تبعيد کېږي او يا بهر ملکونو ته مهاجرت کوي له هغوی سره طبيعي خبره ده چې د فولکلوري موادو کيسې هم هغې سيمې ته وړل کېږي لکه چې د تاريخي اسنادو په حکم يو زيات شمېر غلجي قبايل په داغستان کې مېشته شوي نو دا خبره هم حقيقت او واقعيت ته نږدې ده چې دا نکل او کيسې به له هغوی سره يوځای دغو سيمو ته انتقال شوي وي. يا د بېلګې په توګه پښتني فولکلوري افسانې او نکلونه د کوچيانو د لېږد او کوچ سره يوځای له يوې سيمې نه وبلې ډېرې لرې سيمې ته لېږدول شوي وي. ددغو وريانتونو څرګندول د فولکلور د ښې معرفي سره لا زياته مرسته کولای شي.

خبرې په دغه برخه کې خورا ډېرې دي زه مجبور يم چې خپلې اصلي موضوع ته راوګرځم او خپل تقريظ را تقريض کړم – د څېړونکی نصر-الله ناصر اثر ((د پښتني فولکلور ټولی شوې مجموعی د کوم روش تابع دي؟)) ما په غور سره وکوت، دغه اثر چې د ليکوال له خوا په پنځه څپرکو کې بشپړ شوی د ليکوال د زياتو هڅو او منډو په نتيجه کې د تکميل مرحلې ته رسېدلی دی. په داسې څېڅپانده حالت کې چې ليکوال هم په خپله ورته اشاره کړې د يوه اثر ليکل او بشپړول خورا ګران کار دی او زياتې هڅې غواړي دغه زلمي ليکوال دغه اثر دوه ځلي ليکلی چې لومړی ځل د ناوړه پېښو له کبله له منځه تللی او ده بيا د دويم ځل لپاره د همت ملې رانغاړلي او دغه اثر يې تکميل کړی دی د ستاينې وړ اقدام ګڼل کېږي. ددغه اثر په اړه دا څو ټکي هم د يادولو وړ دي.

۱. ددغه اثر محتوا د علمي او منطقي تسلسل له مخې په منظمه او سيستماتيکه توګه او ډله شوی او په پای کې بشپړه ببليوګرافي هم لري.

۲. د ليکوال د ليکنې سبک خوږ او په معياری لهجه يې ليکلی، د سيمې د لهجې تر اغېزې لاندې نه دی راغلی.

۳. د ليکنې ميتود يې د علمي اصولو پر اساس تشريحي او انتقادي دی، په اکثرو مواردو کې ليکوال نقد او کره کتنه کوي او خپل نظر په علمي او مدلله توګه څرګندوي چې دا د ليکوال د علمي صلاحيت څرګندوني کوي. او کېدای شي ووايو چې دا برخه يې د نوښت بڼه هم لري.

۴. د مفاهيمو او تعريفاتو په اړه يې خورا مهم مواد راټول کړي، کېدای شي چې د ښوونې او روزنې په تعليمي برخه کې هم ورڅخه ګټه واخيستله شي.

۵. د تکراري موضوعاتو څخه ليکوال په بشپړه توګه مخنيوی کړی چې دا کار د اثر په محتوا مثبته اغېزه لري او د ليکدود نښې په کې مراعات شوي دي.

٦. له زياتو او مهمو مأخذونو څخه يې ګټه اخيستې او پر مأخذونو برسېره د تعليمي او تدريسي موادو د يادښتونو څخه هم د قدر وړ استفاده اخيستل شوې ده چې دا کار د کتاب د علمي کېدو په برخه کې نوره او ښه اغېزه هم لري.

په پورتنيو يادونو برسيره ښاغلی نصر الله ناصر د يو دقيق، احتياط کاره، څېړونکي په توګه خپل نقد په خورا خوږه او نرمه لهجه ليکي او خپل مطالب په هنري ادبي قالب کې افاده کوي.

په لنډه توګه ويلای شم چې د ښاغلي ناصر دغه ګټور کار مثبت ارزيابي کوم او دی ددې وړ ګڼم چې ددغه اثر په واسطه د څېړونکي له علمي رتبې نه د سرڅېړونکي د مرستيال علمي رتبې ته ترفيع وکړي. او ددغه ډول نورو علمي کارونو په برخه کې ورته لا زيات برياليتوب غواړم.

لاس دی پر چا رو بر اوسي

په درناوي

سرڅېړونکی نعمت الله اندړ

# زېرى او مبارکي

په اوسنۍ نړۍ کې فولکلور څېړنه او فولکلور پوهنه د ځانګړي درېځ لرونکې، ډېره غوره علمي موضوع ده، د فولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې بهير ته اوس ځکه په نړۍ کې ځانګړې پاملرنه شوې او کېږي چې له يوې خوا راتلونکی او نوی نسل بايد د بشري ژوند له دغو فرهنګي په خپله راشنو شويو (خود رويه) ګلونو سره آشنا شي، له بلې خوا د فولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې سره په هر اړخيزه توګه د فولکلوري آثارو ايجاد او هستونې سره ډېره مرسته کولای شي. همدا وجه ده چې اوس په معاصرو علمي او ادبي څېړنو کې د فولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې علمي کار او زيار په خاص جديت او هاند سره په نظر کې ساتل کېږي....

د پښتو ادب په کلاسيکه دوره کې د پښتو ژبې د پلار خوشحال خان خټک په آثارو کې دغه غوره او درنه موضوع ښه راځلېدلې ده... خو د يوې ځانګړې ځانګې په توګه فولکلور څېړنه او فولکلور پوهنه زموږ د علمي څېړنو او تحقيق په بهير کې يوه نوې، تانده، تازه او رنګينه موضوع ده.

موږ لا تر اوسه د خپلو فولکلوري څېړنو او پوهنو پور وړي يو، هر څومره چې په دغه برخه کې هڅې او هاندونه کېږي بايد د همدغه فرهنګي پور د ادا لپاره يې نور هم ښېړني او چټک کړو، ځکه چې وخت او زمانه په بدلون کې دي داسې وخت به راغلی وي چې بيا به موږ د خپلو دغو خود رويه صحرايي ګلانو رنګين رنګونه او اصيل عطرونه او خوشبويي ونه وينو. لاسونه به پسې مړو او لاسونه به تر زنې ورته ناست يو...

هوکې:

د ډېر ګران او خواږه ورور د سر څېړونکي مرستيال نصرالله ناصر ددغه ډېر په زړه پورې څېړنيز او تحقيقي علمي اثر چاپېدل د همدغو يادو شويو هڅو په لړ کې يو ډېر د ځانګړې يادونې او بيخي زياتې ستاينې وړ کار دی، چې د فولکلور څېړنې په برخه کې يې په زياته ستونزه سرته رسولی. خو حاصل، ايبره او خوږه مېوه يې د علم او ادب په ګلستان کې ډېره ارزښتمنه ده، دا ځکه په دغه تحقيقي څېړنه کې زموږ ښه رسېدلی استاد او څېړونکي د سرڅېړونکی مرستيال نصرالله ناصر د فولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې د

پخواني، او اوسنيو څېړنو او تحقيق پوره جاج په خوږه او روانه ادبي ژبه سره اخيستی دی او يوه ګلورينه علمي غوټۍ ده چې په ليدو يې زما سترګې روښانه او زړه مې پری باغ باغ شو ځکه هغه کارونه چې تر اوسه پورې د فولکلور څېړنې په برخه کې ترسره شوي، په کره توګه يې په ارزښت او نوښت سره دلې څېړلي دي او زياته ستونزه يې ګالللې ده....

زما په نيمګړې پوهه په پښتو فولکلور څېړنه کې دده دغه مغتنم خوږ څېړنيز اثر د فولکلور څېړنې د نوي بهير دپاره ډېره غوره څېړنه ده، ځکه چې د راتلونکو څېړونکو، پوهانو او محققينو سره د علمي او څېړنيزو کارونو په سرته رسولو کې ډېره مرسته کوي، څېړونکي، ليکوال او پوهان کولای شي چې ددغه اثر په لوستلو سره ځانونه د فولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې کارونو ته چمتو کړي او د تحقيقي څېړنو دپاره به يې له علمي ګټو څخه زياتې استفادې او لاس ته راوړنې په برخه شي. دا ځکه ګران ناصر په عمومي ډول د فولکلور څېړنې د بهير ټوله رنګيني او ارزښتونه دلې راټول کړي دي...

زه درانه ورور نصر الله ناصر ته ددغه اثر د چاپېدلو زياته مبارکي وركوم ډېر پرې خوشاله يم او زما دا هيلې او اميدونه هم را تازه او تاند شول چې زموږ راتلونکي فولکلور څېړونکي به په خپلو څېړنو کې ورڅخه پوره ګټه واخلي ځکه دا يو پوره اثر دی.

په مينه

سرمحقق علي محمد منګل

کابل- انصاري واټ ۲۵/ ۴/ ۱۳۸۳

# د دوهم چاپ سریزه

لکه څنګه چې څرګنده ده، ټولنیز علوم د طبیعي علومو په څېر ثابت نه دي.
د بېلګې په توګه: په ریاضي کې دوه جمعه دوه په هر عصر او زمان کې څلور کېږي، کوم کمی او زیاتی په کې نه راځي، خو ددې پر خلاف پـه ټـولنیزو علومـو کـې چـې ادبي علوم هم په کې شامل دي، د وخت او حالاتو له غوښتنو سره سم بدلونونه رامنځته کیږي.
همدا لامل دی چې موږ د ټولنیزو علومو په اډانه کې نـن یـوه مقالـه یـا ځـانګړی اثـر لیکو، کال دوه وروسته که هغه له سره ګورو او چاپ ته یې چمتو کوو، دا اثر که مـو خپـل وي او یا د بل وي، که وغواړو یا ونه غواړو، طبعاً پـه کـې د سـمونو نـو، زیـاتونو، کمونـو او اصلاحاتو اړتیا احساسیږي.
دغه اثر ((د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړنـدود)) چـې ستاسـې پـه لاس کـې دی، ما په ۱۳۷۳ش. کال کې لیکلی او په ۱۳۸۳ش. کال کې د چاپ په ګاڼه پسوللل شـوی دی. لکه څنګه چې په ((څو خبرې)) او د لومړي چاپ په سریزه کـې ورتـه نغوتـه شـوې، ددې اثر د لیکلو پر مهال په هېواد کې کورنۍ خپلمنځني جګړې اوج ته رسېدلې وې چـې له همدې امله د کتابتونونو دروازې تړلې وې او که خلاصې هم وې د اړتیا وړ کتـابونو پیـدا کول په کې ستونزمن وو، ځکه چې ټول آثار یې ګډوډ او مهم کتابونه یې جوړ شوي وو، په دغسې حالاتو کې د مأخذونو ترلاسه کول او د څېړنیزو آثارو پنځول که ناشـوني نـه وو نـو ستونزمن خو وو.
ما په همدغسې شرایطو او حالاتو کې د یاد اثر لیکلو ته ملا وتړله لـه دغـه اثـر مـې د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د ترفیع لپاره لیکلی وم لـه ډېـرو هڅـو سره سره بیـاهم ځینـې آثـار ترلاسه نه کړای شول خو ومې کولای شول چې (۱۱۵) بېلابېـل فولکلـوري آثـار معـرفي او تحلیلي کتنه پرې وکړم.
لکه مخکې مې چې وویل دغه اثر په ۱۳۸۳ ش. کال کې چاپ شوی چې اوس یـې چاپي نسخې نه پیدا کېـږي. د علومـو اکـاډمي د پوهـانو، د پښـتونخوا د ادبپوهـانو او ځینـو منفردو لیکوالو د غوښتنې له مخې مې پتېله چې دغـه اثـر بیـا چـاپ شي، البتـه د دې اثـر د چاپ په برخه کې د علومو اکـاډمي د رئـیس ښـاغلي څېړنـوال دکتـور عبـدالظاهر شـکیب

ځانګړې پاملرنه هم د یادولو ده.

څرنګه چې د دې اثر د لیکلو له وخته تردې دمه (۱۳۹۹هـ. ش کال) کابو ۲۶ کال کېږي او د چاپېدو یې شپاړس کاله وتلي دي، نو له همدې امله دې اثر د څو لاملونو له امله بیا کتنې ته اړتیا درلوده:

لومړی دا چې هغه مهال ځینې آثار زما لاس ته نه وو راغلي، دوهم: ځینې آثار دوهم ځل چاپ شوي، دریمه خبره داده چې په دې ۲۵ کلونو کې ډېر نوي آثار هم چاپ او خپاره شوي دي نو ځکه مې دا پرېکړه وکړه چې دا اثر بیا وګورم او له هر اړخیزې کتنې وروسته یې چاپ ته چمتو کړم او په څنګ کې یې پر هغو آثارو کار وکړم چې یا د لومړي ټوک د لیکلو پرمهال راڅخه پاتې وو او یا نوي چاپ شوي دي او د دوهم ټوک په نوم یې چاپ ته چمتو او دواړه ټوکونو په یوه پوښ کې چاپ کړم.

لکه چې وایي ((د خدای (ج) او بنده اراده یوه نه ده))، نو ځکه همداسې وشول، د ډېرو د علمي او اداري بوختیاوو له امله په خپل وخت د دوهم ټوک په بشپړولو بریالی نه شوم (که څه هم ۶۰ ٪ کار یې سرته رسېدلی) نو ځکه مې غوره وګڼله چې د اوس لپاره همدا لومړی ټوک چاپ ته چمتو کړم او دوهم ټوک له بشپړېدو وروسته په جلا پوښ کې چاپ او مینه والو ته یې وړاندې کړم.

په دې لومړي ټوک کې چې له ما نه کومې تېروتنې شوې وې، تر ډېره بریده مې سمې کړې، بیا مې له سره تر پایه وکوت، د سمونو او اصلاحاتو په بهیر کې په کې نږدې ۵۰٪ زیاتوالی راغی او دا دی، دوهم ځل چاپ او خپرېږي.

هیله ده چې د څېړونکو او مینه والو د استفادې او استفادې وړ وګرځي.

باغ د ګلو به سمسور وي موږ به نه یو
د بلبلو به پرې شور وي موږ به نه یو

# د لومړي چاپ سریزه

فولکلوریستان، د دې لپاره چې له خپل مسلک څخه یې دفاع کړې وي، ډول ډول دلایل وړاندې کوي، د بېلګې په ډول کله وایي: د لیکلو ادبیاتو اصلي منبع شفاهي ادبیات دي، که شفاهي ادب نه وای نو لیکلي ادب به وجود نه درلود او.... فولکلور د خلکو د ژوندانه څرنګوالی منعکسوي. تر هغو چې د یوې ټولنې په کلتورونه پوهېږو د هغې په تاریخ په سمه توګه نه شو پوهېدلی او داسې نور...

ویکتور هوګو وایي: (په افسانه کې تاریخ دی او افسانه په تاریخ کې ده). "ماکسیم ګورکي بیا وایي: " د لفظي هنر پیل په فولکلور کې دی."

دا چې تاریخ له فولکلور څخه راوځي او که فولکلور د تاریخ یوه برخه ده، په دې اړه له خبرو څخه تېرېږم ځکه چې دغه موضوع جلا څېړنه غواړي، خو په لنډ ډول باید ووایم چې فولکلور له تاریخ سره او تاریخ له فولکلور سره اړیکې لري او ډېر ځله کولی شو چې تاریخي مسایل د فولکلور په مرسته وڅېړو او روښانه یې کړو. موږ ددغسې مسایلو د حل کولو لپاره د پښتو ډېرې لنډۍ، چاربیتې او فولکلوري افسانې لرو، د ساري په ډول ویلای شو چې په هېواد کې رامنځ ته شوې ډېرې تاریخي پېښې په کې منعکسې شوي دي. لکه د کابل د جنګ چار بیتې. دلته به د بېلګې په توګه به د یوې چاربیتې څو بیتونه راواخلو:

انګرېز سوله بنا کړه        د سولې تمنا کړه

تالا یې خزانه کړه

وریې کړې سردار محمد یعقوب له مرغلرې

راجمع شوې لښکرې

(تور برېښ ۹۴۵ مخ)

یا دا لنډۍ:

که د خالو لښکرې راغلې

زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

په هر حال راځو خپلې اصلي موضوع یعنې پښتنې فولکلور ته، د پښتو د شفاهي ادبیاتو، که په عام ډول ووایو د پښتنو د کلتور او فولکلور لمنه ډېره ارته ده، سره له دې چې

ددې فولکلور په باب په لړه او بره پښتونخوا او همدارنګه د ختیځ پوهانو له خوا په سلګونو مجموعې راټولې او خپرې شوي دي، او په همدې ډول په دې وروستیو پنځو سو کلونو کې د هېواد په موقوتو خپرونو کې د مقالو په بڼه، د پښتنې فولکلور ډېر توکي او مواد خپاره شوي چې شمېر یې زرګونو مقالو ته رسېږي. هغه د یو محقق خبره: "د اولسي ادب له قصو که تېر شو د پښتو عام اولسي ادبیات اوس هم په سینو کې ساتل شوي دي او دومره زیات کار ورته نه دی شوی، په تېره بیا په اولسي ادبیاتو کې علمي او نسبتاً سیستماتیکه څېړنه خو بیخي اوسنۍ ده." ۳

له پورتنیو خبرو څخه زما موخه دانه ده چې د پښتنو فولکلور او کلتور ته چا کار نه دی کړی، ما مخکې هم وویل چې په دې ارتباط په زرګونو مقالې او په سل ګونو مجموعې خپرې شوي چې دغه کار په خپل ځای د یادونې او ستاینې وړ دی؛ ټولوونکو، څېړونکو او لیکوالو ته یې باید کور ودانی وویل شي او قدر یې وشي، خو له دې څخه هم سترګې نه شو پټولی چې زموږ تېر کارونه زیاتره د فولکلور ټولونې او څېړنی د عنعنوي میتود په رڼا کې ترسره شوي دي او حتی په دې وروستیو کلونو کې هم موږ داسې فولکلوري مجموعې وینو چې د فولکلور ټولونې او څېړنې د معاصر میتود څرک په کې نه لګېږي.

زموږ اساسي دنده به دا وي چې هم پخواني آثار کره کړو او نوې څېړنې وربانـدې وکړو او هم خپلې اوسنۍ ټولونې او څېړنی د نوو میتودونو په رڼا کې ترسره کړو.

موږ پخواني کارونه له یوې مخې نه شو ردولی بلکې هغه په دې لاره کې له موږ سره زیاته مرسته کولی شي خو په پوره احتیاط او دقت باید ورڅخه استفاده وشي.

د پښتني فولکلور لویه او شتمنه خزانه چې ددې قوم د بزګرانو، کسبګرو سپین ږیرو، ښځو او ماشومانو په وسیله سینه په سینه را نقل او تر موږه رارسېدلې ده، موږ ددې ارزښتمنې شتمنۍ په باب په ښکاره ډول ویلی شو چې ددې ژبې د شفاهي ادب او که په عام ډول ووایو، فولکلور او کلتور لمنه دومره ارته ده چې د نورو قومونو او ژبو دایې په زېري کې هم نه شي راتلای.

ددغو موادو او توکو راټولولو ته باید جدي پاملرنه وشي او د فولکلور د نوي څېړندود په رڼا کې راټول او د لزوم په وخت کې په دې اړه تحلیلي څېړنې هم ترسره شي چې دا کار لا تر اوسه د پښتني فولکلور په باب تقریباً نوی دی.

دلته باید ددې خبرې یادونه وکړم چې نړۍ د نوو اکتشافاتو په لور روانه ده چې زموږ

---

۳. دوست محمد دوست، د پښتو د اولسي ادب لارې، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵٦، ۱۵ مخ.

هیواد هم ورځخه ګوښه نه شي پاتې کېدای او حتمي ده چې زموږ د ژوندانه شرایط به هم د معاصرې نړۍ د پرمختګونو په رڼا کې د زمانې په تېریدو سره یو لړ تغییرات که وغواړو یا ونه غواړو مني، موږ یې همدا اوس هم ډېرې بېلګې د سر په سترګو وینو.

زموږ ډېرو پخوانیو دودونو خپل ځای نوو دودونو ته پریښی یا یې بڼه بدله شوې ده، ډېري عامې او خاصې سندرې چې تر اوسه نه دي ثبت شوي، د وخت په تېریدو تر خاورو لاندې شوي، کېږي او مري. همدارنګه ډېرې فولکلوري کیسې چې د سپین ږیرو او سپین سرو زده دي، د هغو له مړینې سره سمې مري او داسې نور....

په همدې توګه ددغو بدلونونو په لړ کې د واده د دودونو په باب ددې څو تېرو کلونو یادونه کولی شو یعنې له ۱۳۵۷ لمریز کاله را په دیخوا د زمانې د جبر او د ژوند د ناوړو شرایطو د موجودیت پر بنسټ ډېر تغییرات تر سترګو کېږي چې دغه موضوع ځانله څېړنه غواړي او زموږ ځوان څېړونکي باید دغه ټکي ته پاملرنه وکړي.

دلته د یوې بلې خبرې یادول هم ضروري دي او هغه دا چې په پخوا وختو کې زموږ ځینو فولکلوریستانو د خپل شخصي ذوق له مخې د فولکلور ټولولو ته توجه کړې او یایې ددې لپاره چې د یوه اثر خاوندان شي، هر څه چې وخو دا کار یې کړی دی او بیا وروسته ځینو علمي موسسو دغې خواته لږو ډېره پاملرنه کړې، لکه پښتو ټولنې، د کلتور د دولتي کمیټې د خلکو د فرهنګ آمریت، د افغانستان د علومو اکادمي د ژبو او ادبیاتو مرکز او ځینې نورې موسسې چې په راټلونکو مخونو کې د هغو په باب یادونې لرو.

په اوسني وخت کې تر ټولو لومړی د افغانستان د علومو اکادمي د ژبو او ادبیاتو د مرکز د فولکلور د څانګې دنده ده چې د هېواد د فولکلوریستانو په مرسته زموږ د فولکلور ټولولو ته ملا وتړي او په اساسي ډول یې راټول او خوندي کړي، ځکه چې همدا اوس د ساحوي څېړنې لپاره هم تر زیاتې اندازې زمینه برابره ده. باید له وخت څخه په ګټې اخیستنې دغه کار ته اقدام وشي...

ما دمخه هم یادونه وکړه چې موږ ډېرې فولکلوري مجموعې لرو خو دغه مجموعې له یوې خوا زیاتره په عنعنوي ډول راټولې شوي او له بلې خوا لا تر اوسه زموږ د غني او شتمن کلتور ډېرې مرغلرې تر ایرو او خاورو لاندې دي چې باید دغه دوړې او خاورې ورڅخه وڅنډل شي او امېلونه ترې جوړ شي، هغه پښتو لنډۍ ده چې وایي:

ستا د ښایست ګلونه ډېر دي
ځولۍ مې تنګه ده به کوم کوم ټولومه

زموږ فولکلور او کلتور دومره شتمن دی چې اوس هم کولی شو په سلګونو نوې مجموعې ورڅخه راټولې او تدوین کړو. ما په دې نیت ددې اثر لیکلو ته ملا وتړله چې له یوې خوا زموږ راټولې شوې چاپي مجموعې (البته د امکان ترحده) ټولنې ته وروپېژنم او راتلونکي څېړونکي په دې ارتباط لږ و ډېر معلومات ترلاسه کړای شي چې زموږ فولکلور ته په لره او بره پښتونخوا او د خیځپوهانو له خوا څومره کار شوی او کومې برخې یې تر اوسه راټولې شوي دي، او له بله پلوه تر هغې اندازې چې زما حقیر فقیر فکر کار کوي، ددغو مجموعو په څېړندود او توکو څه نا څه خبرې وکړم. دادی د لوی خدای (ج) په مرسته مې دغه ناڅېز اثر وکیښ چې د هغه د څرنګوالي په باب په لاندنیو کرښو کې په لنډه ډول ځینې مطالب وړاندې کوم:

۱. میتود:

ددې اثر په لیکلو کې له تشریحي، تحلیلي او انتقادي میتود څخه کار اخیستل شوی دی خو تر څنګ یې تاریخي میتود هم کارول شوی دی. د اثر جوړښت په دې ډول دی:

دغه اثر سریزه، پنځه څپرکي (فصلونه)، نتیجه او د مأخذونو فهرست لري. په لومړي څپرکي کې له دود سره سم هغه منابع او مأخذونه په لنډه توګه معرفي شوي چې ددې اثر په لیکلو کې ورڅخه استفاده شوې ده. باید ووایم چې په دې برخه کې زیاتره هغه آثار معرفي شوي چې لومړی لاس او تیوریکي برخه یې درنه ده، ځکه د پښتني فولکلور ټولې شوې مجموعې خو په مکمل او مفصل ډول په پنځم څپرکي کې هم معرفي او ارزیابي شوي دي چې دلته د ټولو بیا راوړل موضوع ته تکراري بڼه ورکوي. نو ځکه د ټولو له معرفي کولو څخه تېر شوم. یواځې (۴۰) اثره مې لنډ لنډ معرفي او خبرې مې پرې کړي دي.

په دوهم څپرکي کې د کلتور او فولکلور په باب خبرې شوي چې د فولکلور او کلتور په تعریفونو سربېره د فولکلور په لغوي او اصطلاحي معنا ګانو بحثونه شوي او د بېلابېلو پوهانو نظریې هم ورسره ملې دي.

په دریم څپرکي کې د فولکلور ټولونې لارې چارې تشریح شوي دي او دا په کې په ډاګه شوې چې فولکلور باید د کومو میتودونو او لارو چارو په رڼا کې راټول او خوندي شي او څوک یې راټول کړي؟

همدارنګه د فولکلور ټولوونکي ځانګړنې او د فولکلور ټولونې تکنیکونه په کې څېړل شوي او په دغې موضوع پوره رڼا اچوله شوې ده.

څلورم څپرکی د فولکلور ټولونې او څېړنې پس منظر ته ځانګړی شوی او په دې باب یوه نسبتاً سیستماتیکه څېړنه تر سره شوې ده چې په عمومي ډول د افغاني فولکلور

ټولولو په باب خبرې شوي او په خاص ډول د پښتني فولکلور ټولونې کار ته زياته پاملرنه شوې ده. دا چې په عمومي ډول ددغه فولکلور ټولول کله پيل شوي او د علمي مقاصدو په منظور په اساسي توګه څه وخت ورته توجه شوې، په دې برخه کې د افغاني پوهانو او فولکلوريستانو او علمي – تحقيقي مؤسسو هڅې په ځانګړو سرليکونو کې تر څېړنې لاندې نيول شوي او په ترتيب سره په دريوو سرليکونو کې موضوع په لاندې ډول طرحه شوې ده:

۱. ختيځپوهان او پښتني فولکلور

۲. په افغانستان کې د پښتني فولکلور ټولونې پيل.

۳. په لره پښتونخوا کې د پښتني فولکلور ټولونې هڅې.

پورتني سرليکونه د موجودو آثارو په رڼا کې څېړل شوي دي.

په پنځم څپرکي کې په ټوليز ډول دوه موضوع ګانې په پام کې نيول شوي دي:

لومړی: تر اوسه چې موږ د پښتني فولکلور کومې مجموعې لرو او يا په عام ډول څه مواد چې په موقوتو او غير موقوتو خپرونو کې خپاره شوي، دغه کار د کوم منل شوي روش په اساس شوی دی؟ ايا سل په سلو کې دا کار درست دی او که ځينې برخې يې له ميتود سره برابرې دي؟ هلته دغه موضوع تر زياتې اندازې روښانه شوې ده، بحث ورباندې شوی او ما خپل نظر هم ورسره ملګری کړی دی.

په دوهم سر ليک کې په لنډ ډول په دې موضوع خبرې شوي چې تر اوسه موږ کومې چاپي مجموعې لرو؟ ورپسې دغه چاپي مجموعې په ترتيب سره په درې لويو برخو کې معرفي او د رسالې له اهدافو سره سم خبرې ورباندې شوي او په څېړندود يې هم لازم بحث شوی دی.

ما لومړی غوښتل چې د هر صنف مجموعې په بېله برخه کې وښيم خو د څېړنې په بهير کې دا راته ثابته شوه چې دغه کار له ستونزو نه ډک دی، ځکه هغه مستقلې مجموعې چې د فولکلور د يوه خاص صنف توکي په کې راټول شوي وي، ډېرې لږ دي او زياتره مجموعې مختلط او ګډ مواد لري. نو له همدې امله مې په دې اثر کې راغلې مجموعې په کرونولوژيک ډول معرفي کړې.

د کومو آثارو چې د چاپ او ليکلو نېټه نه ده څرګنده په خپله خپله برخه کې مې د نورو آثارو په پای کې معرفي کړي دي.

دغه اثر چې څه نا څه (۱۱۵) فولکلوري مجموعې په کې معرفي او څېړل شوي دي، د ليکلو په وخت کې يې دغه لاندنې ټکي هم په نظر کې نيول شوي دي:

۱. په لمن ليکونو کې د اخځونو پرله پسې نومرې په هر فصل ياهرې عمده برخه کې

له (۱) څخه پیل او همداسې تر پایه دوام مومي.

۲. مأخذونه د هر مخ په لمن لیک کې له منل شوو معیارونو سره سم ښودل شوي دي او همدارنګه د کتاب په پای کې د ببلیوګرافي په سیستم هم راغلي دي.

۳. هر اثر چې کتل شوی، په میتود یې خبرې شوي او که د بل اثر په مرسته معرفی شوی، په میتود یې بحث نه دی شوی.

۴. ما هڅه کړې چې ټول آثار په خپله وګورم خو د مجبوریت له مخې مې ځینې آثار د نورو آثارو په مرسته معرفي کړي دي.

۵. د هرې مجموعې په باب چې غږېدلی یم، هلته مې د (تریوه حده، تر زیاتې اندازې، څه نا څه) کلمې کارولې دي او مطلق حکم مې نه دی کړی.

ما په دې اثر کې ځکه یواځې ټولې شوې چاپي مجموعې انتخاب کړي دي، ځکه چې که په موقوتو خپرونو کې مې ټولې خپرې شوې مقالې او د پښتني فولکلور بېلابېل توکي هم په پام کې نیولي وای نو موضوع به دومره اوږده شوې وای چې ډېر کلونه وخت به ورته په کارو چې دغه کار لکه څنګه چې لازم و تر سره شوی وای. له همدې امله مې یواځې په ټولو شوو چاپي مجموعو بسنه وکړه ځکه چې له یوې خوا په دومره لږ وخت کې ددې ټولو موادو څېړل اسانه کار نه و او له بلې خوا دا کار ددې رسالې له حوصلې څخه وتلی و. له خطي مجموعو څخه مې ځکه صرف نظر وکړ چې:

الف: په هېواد کې دننه زیاتره مجموعې له اشخاصو سره دي او په اوسني وخت کې د هغو تر لاسه کول څه اسانه کار نه دی.

ب: ځینې نورې مجموعې چې زموږ د هېواد په کتابتونو کې خوندي وې زیاتې یې له منځه تللې او که پاتې هم وي د اکثرو کتابخانو دروازې بندې او تړلې دي، په اوسنیو شرایطو کې په هیڅ ډول له هغو څخه د استفادې امکانات نه شته.

ج: اساسي خبره داده چې کېدای شي په دغو مجموعو باندې د هغو ټولوونکي (که ژوندي وي): بیا کتنه وکړي او یا بل چا ته د هغې د کره کولو او په ټولنه کې د هغې د بیا تطبیق په ارتباط دنده وسپارله شي او دغه مجموعې له لازمو سمونو او اصلاحاتو وروسته چاپ ته تیارې شي.

د پورتنیو او داسې نورو ملحوظاتو له په پام کې نیولو سره مې یواځې په چاپي مجموعو بسنه وکړه، هغه متل دی چې وایي:

"مشت نمونه خروار" دلته زما هدف دادی چې له یوې خوا دغه مجموعې معرفي او میتود یې وښیم او له بلې خوا ددغو مجموعو یو لنډ فهرست هم ولرو چې اساسي برخه یې

میتودولوژي ده نو ځکه کېداې شي چې زموږ د تېرو کارونو په باب د همدغو مجموعو په ښودلو سره څه نا څه معلومات تر لاسه کړو.

له بلې خوا د ځینو هغو منظومو مجموعو له معرفي کولو څخه مې هم په دې اثر کې ډډه وکړه چې د پېښور په قصه خواني بازار او ځینو نورو ځایونو کې چاپ شوي دي.

دا مجموعې مې ځکه نه دي معرفي کړي چې د چاله خوانه دي راټولې شوي یا خپله شاعر او ویونکي چاپ کړي او یا د کتابونو کوم تجار خپرې کړې دي. څرنگه چې زما سرو کار له ټولو شوو مجموعو او د هغو له میتود سره دی، نو ځکه مې دغه منظومې لکه د مومن خان او شرینو، شهزاده بهرام او گل اندمې او داسې نورې ټولگې چې منظومی کیسی دي او ویونکي یې هم معلوم دي –دلې معرفي نه کړې.

**د موضوع مبرمیت او اهمیت:**

ددې موضوع په باب د څېړنې مبرمیت او اهمیت په دې کې دی چې تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې داسې یو مستقل اثر چې د پښتني فولکلور ټولونې او څېړنې تېر کارونه په کې ارزیابي او یا دغه مجموعې په کې په بشپړه توگه معرفي شوي وي، نه و موجود، که څه هم د پښتني فولکلور څېړنې او ټولونې په باب په دې وروستیو وختو کې ځینې مستقل آثار او مقالې خپرې شوي چې له هغې جملې څخه د کاندید اکاډیمسین محمد صدیق روهي (فولکلور پېژندنه) نومی اثر او د فولکلور پوهنې سیمپوزیم، د مقالو په مجموعه کې د څو تنو پوهانو مقالې د بېلگې په ډول یادولی شو. خو د فولکلور د ټولو شوو مجموعو د ارزیابي او معرفي په باب کوم مستقل اثر زما له نظره نه دی تېر شوی، دغه آثار هم یواځې تیوریکي جنبه لري.

**د موضوع اړتیا او ضرورت:**

لکه چې څرگنده ده، تر اوسه موږ د پښتني فولکلور د خپرو شوو توکو او موادو په باب داسې کوم مستقل اثر نه لرو چې په هغه کې دې زموږ تېر کارونه په کرونو لوژیک ډول ښودل شوي وي او یا دې د هغو ارزونه شوې وي.

په دې اثر کې که له یوې خوا په تېرو کارونو خبرې شوي او هغه ارزیابي شوي، ښه او بد اړخونه یې روښانه شوي دي، پردې سربېره دغه اثر د پښتني فولکلور څېړنې. او ټولونې لنډه تاریخچه او همدارنگه د راتلونکو څېړونکو لپاره د فولکلور ټولونې او څېړنې د لارو چارو په باب هم مواد وړاندې کوي.

ددغه اثر په بشپړولو سره به هغه تشه (خالیگاه) چې د پښتني فولکلور د ترسره شوو چارو (البته د چاپي مجموعو په برخه کې) د ارزیابي، څرنگوالي او څومره والي په باب

موجوده وه، ډکه شي او هم به دا په ډاګه شي چې زموږ فولکلوریستانو په کومو برخو کې زیات کار کړی دی او کومې برخې لا اوس هم د خلکو په سینو کې خوندي پاتې دي چې په راتلونکي کې باید د هغو ټولولو او څېړلو ته ملاوې وتړو.

په پای کې باید په لنډ ډول ووایم چې:

- دغه اثر د کورنیو، او بهرنیو، څېړونکو لپاره د استفادې وړ مواد وړاندې کولی شي، په دې دلیل چې له یوې خوا د فولکلور د بېلابېلو اصنافو په باب خپرې شوې مجموعې په کې معرفي او میتود یې ښودل شوی دی او حتی د موادو د را ټولولو سیمې هم په ګوته شوي دي.

- همدارنګه هغه کارونه چې په لره او بره پښتونخوا کې تر سره شوي او کومې چارې چې ختیځپوهانو ترسره کړي، ټولې په کې (د امکان تر حده) څېړل شوي دي.

- دا اثر په حقیقت کې هم د فولکلور ټولولو لارې چارې، هم د پښتني فولکلور ټولونې او څېړنې تاریخي پس منظر او د فولکلور ټولونې بېلابېل روشونه تشریح کوي.

هیله ده چې زما دغه نیمګړی زیار به زموږ د راتلونکي نسل او په خاص ډول د ځوانو څېړونکو لپاره د استفادې وړ مواد وړاندې کړای شي.

که څه هم ما زیاته هڅه وکړه، څو ټولې مجموعې چې په معرفي کولو ارزي، دلته معرفي کړم، خو بیا هم متاسفانه زه په دې بریالی نه شوم چې د پښتني فولکلور ټولې راټولې شوې چاپي مجموعې دلته معرفي او وڅېړم، بې له دې چې په دې باب بله خبره وکړم، علت یې په اوسنیو شرایطو کې د کتابتونونو د نشتوالي (ځینی کتابتونونه تړلي او ځینې له منځه وړل شوي) او د علمي – تحقیقي آثارو له کمبود څخه بل څه نه شی کېدای چې دغه ستونزې له هیچا څخه پټې نه دي.

بیا هم ما ددې اثر د بېلابېلو برخو په لیکلو کې خپلې هڅې نه دي سپمولي خو کمی او تیروتنې به خامخا په کې وي چې درانه لوستونکي به د مرستې او پېر زوینې له مخې ما هغو ته متوجه کاندي. څو د دوی په عالمانه مشورو وکولی شم، په خپلو راتلونکو څېړنو کې دغه نواقص او نیمګړتیاوې تر یوې اندازې رفع او له منځه یوسم.

# لومړی څپرکی

## د منابعو او مأخذونو ارزونه

په دې لنډه ليکنه کې به له خپل وس او توان سره سم د لاس ته راغلو آثارو او مأخذونو له مخې په هغو تېرو کارونو او څېړنو چې د پښتني فولکلور څېړنې او ټولونې په باب تر اوسه سرته رسېدلي څه نا څه رڼا واچوم.
په دې څپرکي کې زياتره هغو آثارو ته کتنه شوې چې د فولکلوري موادو ترڅنگ دفولکلور ټولونې او څېړنې په اړه هم لږ يا ډېر تيوريکي مواد لري، ځکه که دلته ټول هغه آثار چې ددې کتاب په بېلابېلو برخو کې ورڅخه گټه اخيستل شوې و ارزول شي، موضوع به زياته اوږده او ښايي تکراري بڼه هم غوره کړي. نو ځکه د همدغو او داسې نورو دلايلو له مخې ځينې مهم مأخذونه دلته تر څېړنې لاندې نيول شوي او د هغو آثارو له معرفي څخه تېر شوم چې په هغو کې يواځې او يواځې بېلابېل فولکلوري اصناف راټول او خوندي شوي دي مگر تيوريکه برخه يې کمه او يا په نشت حساب ده. يا په بله ژبه: هغه آثار چې د فولکلور په باره کې يې يو څه رانغښتي نه وي، يواځې ټولونه وي، ددې آثارو له معرفی او کتنې څخه دلته ځکه تېر شوم چې ددې رسالی په پنځم څپرکی کې په بشپړ ډول معرفي او ارزول شوي دي چې شمېر يې له سلو څخه زيات دی.
دلته بايد د يوې بلې خبرې يادونه هم وشي، هغه دا چې ددغو آثارو په ښودلو کې کرونولوژيک سيستم کارول شوی دی.
کوم آثار چې د چاپ د نېټې له مخې قدامت لري هغه مخکې راوړل شوي او کوم آثار چې وروسته خپاره شوي، هغه په ترتيب سره تر نورو وروسته معرفي شوي دي.
اوس به په لنډ، ډول ځينې هغه مهم مأخذونه وڅېړو چې په دې ليکنه کې ورڅخه زياته استفاده شوې ده او هم د فولکلور څېړونکو لپاره د مطالعې وړ مواد وړاندې کولی شي.

**۱. د کابل سلطنت بيان**

ددغه اثر مؤلف مونټ سټوارټ الفنسټن دی چې په درې کلونو کې يې خپل نوټونه په پونه کې تنظيم او تصنيف کړل او دغه اثر يې وليکه. دا اثر لومړی وار په انگليسي ژبه په